
ضيوف الرحمن
hajjumrh.com

هدية
HADIYAH



# المختصر في صفه العمره وأحكامها

هدية
HADIYAH

ضيوف الرحمن
hajjumrh.com

شركاء التنفيذ :

دار الإسلام
بيان الإسلام
رواد التراجم
المحتوى الإسلامي

يتاح طباعة هذا الإصدار ونشره بأي وسيلة مع
الالتزام بالإشارة إلى المصدر وعدم التغيير في النص

Tel : +966 50 244 7000
info@islamiccontent.org
Riyadh 13245-2836
www.islamiccontent.org

الحمد لله رب العالمين، والصلاة والسلام على نبينا محمد، وعلى آله وصحبه أجمعين.

أما بعد:

موږ په دې لیکنه کې هڅه کړې ده چې د معتمر (عمرې کوونکي) لپاره د عمرې ځرنګه والی، احکام، اداب، او هغه ځېزونه بیان کړو چې هغو ته اړتیا لري.

موږ له الله جل جلاله څخه سوال کوو چې خاص د خپلې رضا لپاره یې وګرځوي او عامو مسلمانانو ته پرې ګټه ورسوي.

**په مختلفو ژبو د اسلامي محتوا تولنه**

# لومړی: د عبادت د قبولېدو شرطونه

عبادت د الله تعالی په دربار کې دوه شرطونو سره قبلېږي:

## 1 اخلاص

عبادت یوازې د الله تعالی د رضا او د آخرت د ګټې لپاره وي،

الله تعالی فرمايي: "وما أمروا إلا ليعبدوا الله مخلصين له الدين حنفاء"

(حال دا چې دوی ته حکم نه و ورکړی شوی مګر په دې چې دوی دې د الله عبادت کوي، په داسې حال کې چې دین (عبادت) دغه (الله) لره خالص کوونکي وي (او) حنیفان (له باطله حق ته راګرځېدونکي وي).[1]

رسول الله ﷺ فرمايلي دي: "اعمال د نيتونو پربنسټ دي، او هر چا ته هغه ورکول کېږي چې هغه يې نيت کړی وي"

بخاري(1)، مسلم: (1907)، کي روايت کړی دی.

## 2 د نبي پيروي په قول او عمل کې ﷺ

رسول الله صلى الله عليه وسلم وفرمايل:

''چا چې زموږ په دين کې نوی شيان را پيدا کړل چې له هغې څخه نه وي، هغه مردود دي''

بخاري (2697) اومسلم (1718)، روايت کړی دی، د مسلم په بل روايت کې دي (1718):


«که څوک کوم کار وکړي او زمونږ د دين امر وربانديې نه وي نو هغه مردود دي».



1_ يعني: هغه ته او د هغه عبادت ته رجوع کول، له هغه پرته ټولو څخه مخ اړول. د سعدي تفسير. مخ: 538

هدية HADIYAH

ضيوف الرحمن hajjumrh.com



# دویــم: د عمــرې د طریقــې او احکامــو زده

څــوک چــې غــواړي د الله لپــاره عبــادت وکــړي، بایــد د هغــه پــه اړه د نبــي صلــی الله علیــه وسلم سنت زده کـړي؛ ترڅـو عمـل یـې د سنت سره مطابقت ولري، رسول الله صلى الله علیه وسلم خلک د خپلې پیـروۍ او لارښـوونو تــه رابللـ: مالــک بـن الحویـرث رضــي الله عنه روایت کوي: رسـول الله صلى الله علیه وسـلم وفرمایل: «**داسـې لمونـځ وکـړئ لکــه څنګـه چــې تاسـو مــا وینــئ چــې زه لمونـځ کوم**».

بخــاري روایــت کــړی دی (6008)، جابــر رضــي الله عنــه **روایــت کــوي او وایــي "مــا نبــي صلی الله علیه وسـلم** د حج پر ورځ ولید چې لــه خپــل څــاروي د پاســه یــې جمــرات ویشــتل او ویــل یــې: زمــا د مناســکو پیــروي وکــړئ، ځکــه ممکــن د دې حــج پرتــه زه بیــا حج ونه کړم".

مسلم (1297) روایت کړی

# دریيم: د عمرې فضيلت

عمره دو فضيلتونه لري:
عـام او خـــــاص

## عام فضيلت:

1 لـه ابـو هريـره رضـي الله عنـه څخـه روايـت دی وايـي چـې رسـول الله صلـى الله عليـه وسلم فرمايلـي دي: « يـوه عمره تـر بلـې عمـرې پـورې د دواړو تـر منـځ د ګناهونـو كفـاره ده، او مقبول حج ته جزا بې له جنت نه نشته»

بخاري (1773) او مسلم (1349) روايت کړی دی.

---

2 لـه عبدالله بـن مسـعود رضــي الله عنـه څخـه روايـت دی وايـي چـې: رسـول الله صلـى الله عليـه وسلم فرمايلـي: «حج او عمـره سـره يوځـای کـړئ، ځکـه دوی د بـې وزلـۍ او ګناهونـو لـرې كوونكـي دي، لکـه څنګـه چـې د اوسـپنې او سرو زرو ناپاکي د اور په وسيله لرې کيږي»[2].

ترمذي: 810، نسائي: 2631).

---

## او خاص فضيلت په رمضان کې:

د ابـن عبـاس رضـي الله عنهمـا څخـه روايـت دی چـې پيغمبر صلى الله عليه وسلم فرمايلي دي: «د رمضان په مياشت کې يوه عمره زما سره د يو حج په برابر ده»[3]

بخاري (1863)، او مسلم (1256) روايت کړی دی.

---

2- موضع نار الحداد والصائغ. التمهيد لابن عبد البر : 102/15

3- .يعني: زما سره د يوې حج په برابر ده، لکه څرنګه چې په بل روايت کې راغلي دي

هدية
HADIYAH
ضيوف الرحمن
hajjumrh.com

# د عمري طريقه



# لومړی: د میقاتونو احکام

1. **میقاتونه**: هغه ځایونه دي چې نبي صلى الله عليه وسلم د حج او عمرې لپاره د احرام تړلو لپاره ټاکلي دي.

2. څوک چې د حج یا عمرې په نیت د دې میقاتونو له یوې څخه تېرېږي، نو باید له هغه ځایه احرام وتړي، او روا نه ده چې له هغه ځایه پرته له احرام څخه تېر شي.

3. څوک چې له دې میقاتونو څخه مکې ته نږدې وي: د هغه میقات د هغه خپل ځای دی؛ نو د حج او عمرې لپاره له هماغه ځای څخه احرام کوي.

4. د مکې اوسېدونکي او هغه څوک چې له مکې څخه احرام کوي: د حج لپاره له مکې او د عمرې لپاره له حِل (لکه تنعیم) څخه احرام کوي.

5. که څوک په الوتکه کې وي: هغه وخت احرام تړي لکه چې الوتکه میقات ته ورسېږي، نو میقات ته له رسېدو دمخه د احرام جامې چمتو کوي او اغوندي، کله چې میقات ته ورسېږي، نو سمدلاسه دې احرام وتړي او نیت دې وکړي، او د هغه لپاره دا جواز نلري چې تر هغه وخته پورې یې وځنډوي تر څو چې په هوایی ډګر کې ښکته شي، هغه کولی شي د میقات ته له رسېدو دمخه د تلبیه په ویلو سره احتیاطي تدابیر ونیسي، ځکه چې د الوتکې د سرعت له وجې د تلبیه ځای له لاسه ورکولو ویره شتون لري.



# دويم: د احرام طريقه او احکام:

## څوک چې غواړي احرام وتړي، لاندې احکام تاکل شوي دي:

1. **غسل**، د نارينه او ښځو لپاره سنت ده، حتى حائضې او نفساء لپاره.

2. **خوشبوی لګول**: نارينه په سر او ږيره کې خوشبو استعمالولی شي، او د احرام څخه وروسته د خشبويي اثر پاتېکېدل زيان نلري.



3. **خو د ښځو لپاره د خوشبويي استعمالول جواز نلري، خو د ښځو لپاره د خوشبويي استعمالول جواز نلري**؛ ترڅو نامحرم نارينه يې بوی نه کړي..

د احرام جامې اغوستل، چې هغه د نارينه و لپاره لنګ او څادر دي، سنت دا ده چې سپيني پاکې وی او يا نوي وي. او ښځه دې د احرام لپاره هر هغه څه واغوندي چې زړه يې غواړي، خو چې زينت او تبرج په کې نه وي، او همدارنګه د نقاب او دستکشو اغوستلو څخه دې ډډه وکړي، او خپل مخ او لاسونه په بل څه پټ کړي

4.احرام تړل ورسته له مشروع لمونځ څخه، که هغه د فرض لمونځ وي او يا نفل، او دا واجب نه دی.

---

5.او بيا وايي: (لبيك اللهم عمرة).
او که د بل چا لپاره عمره کوي، بايد ووايي: (لبيك اللهم عمرة عن فلان).

---

6.څوک چې غواړي احرام وتړي، او له کومې ستونزې څخه وېره ولري چې د هغه د حج يا عمرې د بشپړولو مخه به ونيسي، نو هغه بايد د احرام د تړلو پر مهال دا شرط وتړي او ووايي: (لبيك اللهم عمرة، وإن حبسني حابس فمحلي حيث حبستني) "ای الله، زه د عمرې لپاره نيت کوم، زما د احرام نه وتلو ځای به هغه وي چې زه پکې بنده پاتې شم"، نو کله چې هغه شرط وکړي او يو څه پېښ شي چې هغه د خپل مراسم بشپړولو څخه منع کوي، نو هغه له احرام څخه وځي او هغه باندې هېڅ شی نشته.

---

7."بيا به تلبيه (لبيک اللهم لبيک، لبيک لا شريك لك لبيک، إن الحمد والنعمة لك والملك لا شريك لك)[4] ډېر تکراروي، سړی بايد په تلبيه کې خپل غږ لوړ کړي، او ښځه هم همداسې؛ په دې شرط چې نامحرم سړي نه وي. د احرام کوونکي لپاره مناسب ده چې تلبيه ډېره تکرار کړي، په ځانګړې توګه کله چې حالات او وخت بدلون مومي، لکه د لوړې ځای ته ختل، يا ټيټې سيمې ته ښکته کېدل، يا د شپې او ورځې په راتلو سره.

---

4- د انسان د "لَبَّيْک" ويلو معنی دا ده چې اې زما ربه زه ستا بلنې ته بيا بيا ځواب ورکووم، دا د بندګۍ اطاعت او د الله په حکم باندې د تسليمېدو "څرګندونه ده "إنَّ الْحَمْدَ وَالنِّعْمَةَ لَكَ وَالْمُلْكَ
الحمد" (ستاينه): دا د ستاينې وړ کس په کمال، مينې او درناوي سره بيانول دي، که دا تکرار شي، نو ستاينه بلل کېږي"-
النعمة" (نعمت): دا هغه څه دي چې الله پاک خپلو بندګانو ته د مطلوبو شيانو د ترلاسه کولو او د ناخوښ شويو شيانو د له منځه وړلو په برخه".
کې ورکوي "الملك" (بادشاهي): ټول ملکيت يواځې د الله تعالی لپاره دی. هغه يوازينی مالک، خالق او تدبير کوونکی دی. "لا شريك لك" ستا هېڅ شريک نشتهدا جمله ټاکي چې الله تعالی ته هېڅ ډول شريک نشته. نه په ذات کې، نه په صفاتو کې، او نه په ملک، خلقت، يا عبادت کې.
ټول کمال يواځې د هغه ذات ځانګړتيا ده
د شيخ ابن عثيمين رحمه الله فتاوی او رسائل، ټوک 22، مخ 96 : لنډيز شوی

8.په عمره کې د احرام تړلو له وخته د طواف تر پیل پورې تلبیه ویل جواز لري.

9.محرم باید محتاط وي چې د احرام په هېڅ ډول ممنوعاتو کې ښکېل نه شي تر هغه چې له خپل احرام څخه تحلل حاصل کړي.

# دریېم: د طواف طریقه

1.کله چې محرم مسجد حرام ته ننوځي، نو د هغه لپاره سپارښتنه کېږي چې خپله ښي پښه مخکې کړي او جومات ته د ننوتلو دعا ووايي. یو له هغو معتبرو روایتو څخه چې پدې اړه روایت شوي دي دا دي چې ووايي: «اللهم افتح لي أبواب رحمتك»، «اې الله! زما لپاره د خپل د رحمت دروازې خلاصې کړه». دا دعا هر جومات ته د ننوتلو پر مهال ویل کېږي، او یوازې په حرم شریف پورې محدوده نه ده.

2.کله چې وغواړي طواف پیل کړي، نو تلبیه دې بنده کړي، او اضطباع دې وکړي، د اضطباع طریقه:
سړی باید د خپل (څادر) منځنی برخه خپل ښي (تخرګ) لاندې تېر کړي، او څنډې دی یې په کینه اوږه باندې واچوي، کله چې طواف پای ته ورسېږي، نو څادر دې بېرته په معمول ډول (د طواف دمخه په څېر) حالت ته واړوي؛ ځکه چې اضطباع یوازې د طواف پر مهال مشروع ده.



3.بیا به حجر اسود ته لاړ شي او په خپل ښي لاس سره دې حجر الاسود لمس او ښکل کړي، که هغه ونه شي کولی چې ښکل یې کړي، نو په خپل لاس سره دې لمس کړي، او خپل لاس دې ښکل کړي، که هغه ونه شي کولی چې په خپل لاس سره یې لمس کړي، هغه دې په هغه څه سره چې ورسره وي لمس کړي، لکه (امسا) او یا ورته شی، او بیا دې ښکل کړي، که دا هم نشو کیدلی حجر الاسود ته دې مخامخ ودرېږي او خپل لاس سره دې ورته اشاره وکړي، خو نه دې یې ښکلوي، او غوره دا ده چې رش دې نه جوړوي چې خلکو ته هم تکلیف رسوي او ځان ته هم.

---

4.کله چې حجر الاسود لمسوي یا ورته اشاره کوي، هغه باید ووایي: "الله اکبر".

ضيوف الرحمن
hajjumrh.com

هدية
HADIYAH

5.بیا دې ښي اړخ ته لاړ شي او کعبه دې خپل چپ اړخ ته پرېږدي، او کله چې یماني رکن ته ورسېږي، هغه دې لمس کړي پرته له ښکلولو څخه، که دا ورته ممکنه نه وي، نو هغه دې ټېلې نه کوي، او اشاره دې هم ورته نه کوي.

---

6.د حجر الاسود او رکن یماني ترمنځ دې ووایي: (رَبَّنَا آتِنَا فِي الدُّنْيَا حَسَنَةً وَفِي الْآخِرَةِ حَسَنَةً وَقِنَا عَذَابَ النَّارِ). (زموږ ربه! موږ ته په دنیا کې ښېګڼه (نیکمرغي، سلامتي، رزق) او په آخرت کې هم ښېګڼه (جنت، رحمت) راکړه، او موږ د دوزخ له عذاب څخه وژغوره).

---

7.هر کله چې د حجر الاسود څخه تېرېږي، نو په خپل لاس دې ورته اشاره وکړي او ودې وایي: (الله اکبر).

---

8.او د خپل طواف په پاتې موده کې دې هغه ذکر او دعا او د قرآن تلاوت دې وکړي چې خوښوه یې وي.

9.سنت دا دی چې یوازې په لومړیو دریو ګردشونو کې په چټکۍ سره قدم وهل په لنډو ګامونو سره قدم ووهل شي، د پاتې څلورو ګردشونو کې چټک قدم وهل نشته، مګر د معمول په څیر قدم وهل دي.

10. کله چې يې طواف بشپړ کړ، مقام ابراهيم خوا ته دې لاړ شي او ودې وايي:
(وَاتَّخِذُوا مِنْ مَقَامِ إِبْرَاهِيمَ مُصَلًّى)،
(د ابراهيم عليه السلام له مقام (او دريدلو ځای) څخه د لمانځه ځای جوړ کړئ). بيا که امکان ولري، دوه رکعته لمونځ به د مقام تر شا وکړي، که نه نو په جومات (مسجد حرام) کې يې په هر ځای کې کولی شي، په لومړي رکعت کې به له فاتحې وروسته ووايي:
(قُلْ يَا أَيُّهَا الْكَافِرُونَ)
سورت په دويم رکعت کې به له فاتحې وروسته ووايي:
(قُلْ هُوَ اللَّهُ أَحَدٌ).
سورت

# څلورم: د سعي طريقه

1. نو کله چې طواف او دوه رکعته لمونځ پای ته ورسوي، نو هغه مسعی ته ځي، کله چې صفا ته نږدې شو، دغه آيت دې تلاوت کړي:
(إِنَّ الصَّفَا وَالْمَرْوَةَ مِنْ شَعَائِرِ اللَّهِ) (يقيناً صفا او مروه د الله له نښو څخه دي). بيا دې ووايي: "أبدأ بما بدأ الله به"،
«زه په هغه څه پيل کوم چې الله هغه باندې پيل کړی دی».



2. بیا دې صفا ته وخیژي تر دې چې کعبه ووینې او یا دې د کعبې طرف ته ځان برابر کړي او د الله تعالی وحدانیت او تکبیر دې ووایي، او ودې وایي: «لا إله إلا الله وحده لا شريك له، له الملك وله الحمد، وهو على كل شيء قدير، لا إله إلا الله وحده، أنجز وعده، ونصر عبده، وهزم الأحزاب وحده»،

---

3. «له الله پرته بل معبود نشته، او الله تر ټولو لوی دی، له الله پرته بل معبود نشته، چې یوازې دی او هیڅ شریک نه لري، پاچاهي د هغه ده او ستاینه هغه لره ده، او هغه په هرڅه قادر دی، نشته بل معبود مګر یوازې یو الله، هغه خپله ژمنه پوره کړه، او د خپل بنده مرسته یې وکړه، او هغه یوازې احزابو ته ماتې ورکړه»، دغه ذکر دې درې ځله تکرار کړي، او د دې ترمنځ دې دعا وکړي.

---

4. بیا دې له صفا څخه ښکته شي او مروه ته دې لاړ شي نو کله چې شنې نښې ته ورسیږي، نارینه دې خپل تګ ګړندی کړي تر هغه چې دویمې نښې ته ورسیږي، بیا دې خپل تګ عادي کړي، او د ښځو لپاره ګړندی تګ جواز نلري.

---

5. نو کله چې مروه ته ورسیږي هغه کارونه یې چې په صفا کې ترسره کړي و مروه کې دې هم ترسره کړي.
(دویمه فقره).
بیا دې له مروه څخه صفا ته ښکته شي، او کله چې شنې نښې ته ورسیږي، نارینه دې خپل تګ ګړندی کړي تر هغه چې دویمې نښې ته ورسیږي، بیا دې خپل تګ عادي کړي.

---

6. او همداسې تر هغه چې اووه ګردشونه بشپړ کړي، له صفا څخه مروه ته تګ یو ګردش دی، او له مروه څخه صفا ته راستنیدل بل ګردش دی.



7.او په خپله سعی کې یې چې هر ذکر، دعا، او د قرآن تلاوت خوښ وي ودې یې کړي.

## پنځم: د وېښتانو خریل او یا لنډول:

1.که چېرې معتمر خپل طواف او سعی بشپړ کړي، نو باید خپل سر وخریي یا یې لنډ کړي که هغه نارینه وي، سنت دا دی چې ټول سر وخریي یا یې لنډ کړي.

2.د سر خریل د لنډولو څخه غوره دی، مګر دا چې د حج وخت دومره نږدې وي چې د سر د وېښتانو د ودې لپاره کافي وخت نه وي؛ نو دا غوره ده چې وېښتان لنډ شي.

3.اما ښځه، نو هغه دې د خپلو وېښتانو د څنډو څخه د ګوتې د سر په اندازه لنډ کړي.



# د احرام ممنوعات

## د احرام ممنوعات عبارت دي له:

1. د بدن د هرې برخې څخه د وېښتانو خريل، لنډول او يا ايستل.

---

2. د پښو يا لاسونو ټول يا ځيني نوکان لنډول.

---

3. سر د هغه څه سره پوښل چې ورسره تړلی وي، لکه خولۍ، پګړۍ، يا په سر باندې څادر اچول، يا رومال، کمپله، کارتن، يا بل څه چې د پوښلو لپاره وي. دا په نارينه وو پورې اړه لري، نه په ښځو پورې

4.د بدن سره سم منظمې جامې اغوستل؛ په خپل عادي بڼه کې، لکه: یوه جوړه شوې جامې، پرتوګ، پتلون، کمیس، جرابې، او دستکشې. دا په نارینه وو پورې اړه لري، نه ښځو پورې؛ هغه یوازې د لاندې څیزونه څخه منع ده:

أ.نقاب، برقع، یا هغه څه چې د مخ د پوښلو لپاره د نقاب په څیر استعمالیږي اغوستل، او د نامحرمو سړیو په وړاندې ښځه باید خپل مخ د اعتیادي مخپوښ سره وپوښي؛ دا پوښل حتی که مخ ته هم ښه ورسیږي، د هغې لپاره دا جواز نلري چې په خپل سر باندې پټۍ یا ورته بل شی وتړي ترڅو د هغې مخ ته د مخپوښ د رسیدو مخه ونیسي؛ ځکه چې د هغې د مشروعیت لپاره هیڅ ثبوت نشته.

ب.په لاسونو کې دستکشې اغوستل، او هغه باید خپل لاسونه د نامحرمو نارینه وو څخه د عبایې په دننه کولو سره پټې کړي.

5.په بدن او د احرام په جامو باندې د خوشبو لګول.

6.د ځمکنې حیواناتو وژل، او یا ښکار کول، که څه هم هغه ونه وژني.

7.کوژدنه، د ځان لپاره یا د بل چا لپاره.

8.د نکاح تړون.

9.پرته له جماع څخه نږدېوالی؛ لکه ښکلول، او په شهوت سره لمس کول.

10.جماع، چې هغه په فرج کې وطی کول دي.

والله أعلم وصلى الله وسلم على نبينا محمد

## د عمرې د اعمالو لنډيز (يا به د کتاب په پوښ کې وي او يا په اخرنی صفحه کې)



1.غسل کول.

2.خوشبوي استعمالول.

3.د احرام جامې اغوستل.

4.احـــرام، چـــې هغـــه پـــه مناســـکو کـــې د داخلېـــدو نيـــت دی.

5.تلبيه ويل.

6.طواف بيت الله الحرام.

7.دوه رکعتـــه لمونـــځ کـــول د مقام تر شا.

8.د صفـــا او مـــروه تـــر منـــځ سعی کول.

9.د سر خريل او يا لنډول.

# الفهرس


| | |
|---|---|
| پیلیزه | 1 |
| لومړی: د عبادت د قبولېدو شرطونه | 2 |
| دویم: د عمرې د طریقې او احکامو زده کړه | 3 |
| درېیم: د عمرې فضیلت | 4 |
| د عمرې طریقه | 5 |
| لومړی: د میقاتونو احکام | 6 |
| دویم: د احرام طریقه او احکام | 8 |
| درېیم: د طواف طریقه | 10 |
| څلورم: د سعي طریقه | 13 |
| پنځم: د وېښتانو خریل او یا لنډول | 15 |
| د احرام ممنوعات | 16 |
| د عمرې د اعمالو لنډیز (یا به د کتاب په پوښ کې وي او یا په | 18 |

# تعرف على الإسلام

# بأكثر من 100 لغة

موسوعة القرآن الكريم
QuranEnc.com

ترجمات متقنة لمعاني القرآن الكريم بأكثر من (75) لغة

بيان الإسلام
byenah.com

مواد منتقاة للتعريف بالإسلام وتعليمه بأكثر من (120) لغة

موسوعة الأحاديث النبوية
HadeethEnc.com

ترجمات متقنة للأحاديث النبوية وشروحها بأكثر من (60) لغة

ضيوف الرحمن
hajjumrh.com

مواد منتقاة للحجــــاج والمعتمرين و الزوار بلغات العالم

جامع المحتوى الإسلامي باللغات
islamcontent.com

مواد إسلامية متنوعة وشاملة بأكثر من (125) لغة

موسوعات وخدمات إسلامية باللغات
s.islamenc.com

للمزيد
من المواقع الإسلامية
بلغــــات العــــالم

ضيوف الرحمن
hajjumrh.com